# د پوهې قدرت

ژباړه مظلوم یار

لرغوني چین غوښتل له خپل هېوادڅخه ساتنه وکړي نو د چین لوی دیوال یې جوړ کړ.

ګمان یې کاوه چې هیڅ څوک به ددې د پاسه ولاړ شي.

اما متاسفانه

د چین د دیوال د جوړیدو وروسته په لومړیو سلو کالونو کې ۳ ځله په چین حمله وشوه چې په یو ځل کې هم ددې اړتیا نه وه چې دښمن په دیوال راوا وړي، ځکه په ډېرې اسانۍ سره یې ساتونکو ته رشوت ورکاوه او له دروازو څخه چین ته داخلیدل.

چینایان د دیوال په جوړیدو مصروف وو، دایې هیر کړي وو چې ساتونکي جوړ کړي، ځکه د یو انسان جوړول د ساختمان له جوړولو مهم او اړین دي.

متاسفانه مونږ د لرغوني چین سره کوم توپیر نلرو، مونږ یاد نکړل چې کورنۍ جوړه کړو، جالبه داده کورونه شته چې د هغې دننه کورنۍ دي، او کورنۍ شته چې کور نلري، لکه د ښار په اطرافو کې پراته خلک

په ورته وخت کې ماښۍ لرو چې په هغې کې کورنۍ پاشلي دي، حتی ماښۍ هم ملامت دي.

په حقیقت کې زما ددې قیصې ادبیات تحصیلي او ټولنیز نه دي.

متل دی چې وایې: که غواړې تمدن لمنځه یوسې ! درې لارې لرې.

۱.د کورنۍ لمنځه وړل

۲.د زده کړو لمنځه وړل

۳. د الګو بې اعتباره کول

د کورنۍ د لمنځه وړلو لپاره باید دمور نقش بې ارزښته کړې، داسې کار وکړې چې مور په خپل مورکیدو باندې خجالت وکړي.

د زده کړو د لمنځه وړلو لپاره استادان هدف وټاکئ، په ټولنه کې د هغوی اهمیت کم او بې ارزښته کړئ! ترڅو زده کوونکي او محصلین هغوی سپک کړي.

ددې لپاره چې الګو بې اعتباره کړئ، پوهان او عالمان هدف وټاکئ! هغوی تخریب کړئ او شکونه رامنځ ته کړئ ترڅو لږ خلک هغوی ته غوږ ونیسي.

که چېرته هوښیاره مور لمنځه ولاړه، وفادار ښوونکی لمنځه ولاړ او الګو سقوط کوي، نو کوم خلک به ارزښتونو ته تربیه ورکړي.

ستاسې نظر څه شی دی؟